# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد  بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم  از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com  afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



محمدامین بسمل


۱۱ اکتوبر ۲۰۱۲

## دښووني اوروزني پوهنتون دلانجي په اړونددبايرن مېشتو افغانانواعلاميــه

نن غرمه د۲۰۱۲زکال داکتوبرمياشتي په لسمه نېټه زموږ فرهنګي ملګرو دجرمني په بايرن آيالت مونشن ښار کې له يوې غونډې وروسته لاندې اعلاميه تصويب کړه:

۱ـ موږپه زغرده دښووني اوروزني پوهنتون دنوم اړولومخالف اومعترضومحصلينوملاترکوو.

۲ ـ موږ له معترضومحصلينو څخه هيله کوو، چې ترخپل بري پورې دلاريونونولړۍ په سوليز ډول وغځوي.

۳ـ موږ دهېوادپه اوسنيوکړکېچنواودردوونکوشرايطوکي داډول له اغراضو ډک تحريکات اولمسوني د ملي يووالي او ښوونيز بهير په زيان بولو.

۴ـ موږ په ارګ کې ناست تش په نامه مشران په کلکه محکوموچي دخپلوموخولپاره شعوراًدافغان ولس په تبره بيازموږ د ځوان نسل په مينځ کې نفاق اچوي.

۵ ـ که دلاريونونودغه لړۍ دهېوادپه کچه وغځېده اوخداى مه کړه بدې پايلې يې ولرلې ټول مسؤليت به يې دبې کفايتوارګ مېشتواو نفاق اچوونکي ادارې په غاړه وي.

۶ ـ موږدپياوړي اواتل محمدياراونوروهېوادپالومحصلينوپه مقاومت وياړو، دراتلونکي نسل لپاره به ددوی قرباني په زرينوکرښو وليکل شي.

۷ ـ موږ په بلجيم کې دافغان کلتوري بهير،په هالنډکې دافغاني کلتوري ټولنې،پښتون خوځښت اونورو هېواد اوولسپالوهېوادوالوڅخه دملاتړ ترڅنګ مننه کوو، چې دښووني اوروزني پوهنتون دنوم اړوني اوبدوپايلو په اړوند يې پخپل وخت غبرګونونه وښودل.

۸ ـ موږ دنړۍ په هرګوټ کې له ټولوافغاني کلتوري ټولنو، ټولنيزوخوځښتونو، سياسي اوهېوادپالو ګوندونو څخه هيله کوو، چې له افغان تاريخ او عرفان سره ددې لوبې جفاپه مخ نيوې کې يو اوبل ته لاس ورکړي ، پرې نه ږدي، چې دهېوادعلمي او ښوونيزمرکزونه دسياسي لوبوډګر وګرځي.

دبايرن مېشتو افغانانو دکلتوري ټولنې په استازيتوب